Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

# A Critical Review Of Muhammad Parvesh Shaheen's Literary Work In Swat

# په سوات کښې دمحمد پروېش شاهين د ادبي کاراو زيارتنقيدي جاج

**Muhammad Tahir**
PhD Research Scholar, Pashto Academy University of Peshawar

**Dr Sher Zaman Seemab**
Assistant Professor, Pashto Academy University of Peshawar

**ABSTRACT**
Muhammad Parvesh Shaheen is a prominent researcher of Swat. He was born in the historical village Mangalore of Swat He has written a useful history of Swat. The author has enthusiastically discussed the customs, history, buildings, crops, fields, forests, and natural landscapes of this region. Parvesh Shaheen has written numerous books about Swat Many other writers have also published their works on Swat, but none of the documentary references that Shaheen has provided have been provided by these other writers. Parvesh Shaheen is a unique personality from Swat. He has rendered literary services in Urdu and English besides Pasho.He have researched Swat and other places around Swat such as Chitral, Dir, and Kohistan. They have discussed many aspects of Swat's history. The author's writings, on the one hand, shed light on some aspects of Swat's historical background, and on the other hand, they also provide a heartfelt introduction to some of the l figures of this fertile and populous region.

**KEY WORFD:** Prominent Rendered Historical Fertile Documentary Provide Landscapes Besides Introduction Swat

محمد پروېش شاهين د سوات په تاريخي کلي منګلور کښې زېږېدلے دے. ددوي ادبي زيار ته په ملک دننه او د د ملک نه بهر اديبان ګوته په خله دي.ددوي ادبي زيار ته په سينګاپور، جرمني ، جاپان، امريکه، افغانستان ،چين ،بهارت،او نيوزي لېنډ کښې د عزت په نظر کتلې شي.دوي ګڼ شمېر کتابونه او مقالې ليکلي دي.

پروېش شاهين د سوات يو ځانګړے شخصيت دے . دوي د پښتو نه علاوه په اردو او انګرېزۍ ژبه کښې ادبي خدمات وړاندې کړي دي . دوي په پښتو ، سوشيالوجي ، ارکيالوجي او اردو کښې د ماسټر ډګرياني تر لاسه کړي دي. د ګڼ شمېر کتابونو خالق دے.

د محمد پروېش شاهين يو کتاب""مشرق کا سويٹزر لينڈ ""ته دا اعزاز حاصل دے چې دا د سوات په سېل سپاتے ګټه ور

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

معلومات لري.دا کاتب په دویم ځل هم یو زر ۱۰۰۰ کتابونه چاپ شوي وو او د پاکستان د ټوارزم ډائریکټر طیب نهه سوه ۹۰۰ کتابونه واخستل او په ملک دننه ئې هر یو پاکستان ټوارزم ډویلپمنټ کارپوریشن ته شل شل کتابونه اولیږل.هم دغه وجه ده چې په ملک دننه په هر یو پي ټي ډي سي کښې دا کتاب موجود دے.

ددوي بل کتاب " کافرستان" چې په اردو ژبه کښې لیکلے شوے دے ،په څو ځله بیا چاپ شوے دے.ددې کتاب نه اوس هم د ایم فل او د پي ایچ ډي طالب علمان فائده اچتوي. ددې کتاب د چاپ کېدو نه پس دا په ګرده نړئ کښې خور شو او محمد پرویش شاهین ته د بهر ملکونو نه د شاباسئ خطونه او په لفافو کښي پېسې هم رااولیږلې شوې.

محمد پرویش شاهین د سوات په تاریخ ګڼ شمېر کتابونه لیکلي دي. دوي د سوات او د سوات خواوشا ته په نورو ځایونو لکه چترال ،دیراو کوهستان وغېره څېړنه کړې ده.د سوات د تاریخ په ګڼ شمېر اړخونو دوي بحث کړے دے.د سوات د ابادئ او د رقبې په حقله دوي په خپل کتاب "د سوات ګلونه " کښې لیکي چې.

"د دې ضلعې ابادي اووه ۷ لکه او رقبه څلور زره مربع میله ده." (۱)

د محمد پرویش شاهین دا کتاب په جولائي ۱۹۸۸ء کښې چاپ شوے دے . نو په هغه وخت د سوات ابادي اووه ۷ لکه وه.

دوي په دې کتاب کښې د سوات د سیمې متعلق ښه ګټه ور معلومات راوړي دي.د سوات د اودیانه د نامې په حقله لیکوال د ﷲ بخش یوسفي حواله هم ورکوي او لیکي چې.

"ﷲ بخش یوسفي مرحوم لیکي چې په قدیمو کتابونو کښې د سوات ذکر د اودیانه په نوم یاد شوے دے چې هغه په پراکرت (سنسکرت)کښې اوجیانه وئیلے کېده.چې د هغې معنٰی د باغ یا ګلستان یا د پارک ده.د دې نه دا معلومېږي چې دې قدیمې علاقې ته د زمانه قدیم راسي د خپلي خوبصورتئ ، دلکشئ او د قدرتي منظرنو په وجه لوے اهمیت او شهرت حاصل وۀ." (۲)

محمد پرویش شاهین لکه څنګه چې د سوات متعلق نور معلومات راکوي نو دغه شان دوي د سوات د سین په حقله هم ډیر ګټه ور معلومات راکوي.د سوات سین صرف بهېدونکي اوبه نه دي ګڼلي شوي بلکې په دې سیمه دډېرو تېر شوو

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

مذهبونو په نظر کښې ددې اوبو لوړ مقام وو. په دغه اړه محمد پرویش شاهین لیکي چې.

"د سوات سین د بده مذهب د منونکو په نظر کښې ډېر اوچت او د عزت مقام لري. د هغوي مذهبي کتابونه په دې خبره ګواه دي چې په هغه زمانه کښې د سوات د سین په منبع کښې د خپلې زماني یوه مشهوره اژدها او سېدله چې هغه د (اپاله) په نوم مشهوره وه. دغه اژدها ګوتم بده "حلقه بګوش" کړې وه . د بده مت منونکو دا عقیده ده چې ګوتم بده په سوات کښې ښهٔ ګرځېدلے او د ډېر وخته پورې دلته پاتې شوے دے او دوېم جنم ئې هم دلته شوے دے، دهغه هډوکي هم دلته ښخ دي ، دغه وجه ده چې هغه د سوات وطن ته ډېر په درنه سترګه ګوري او د رحمتونو وطن ئې بولي . د بده مت د ارټ چې څومره کار په کاني شوے دے په دغه ټولو کښې د اژدها دي شکل ته ډېر لوے اهمیت حاصل دے." (۳)

د محمد پرویش شاهین بل کتاب" سوات د سردرو طن" د شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسېلرز له اړخه په کال نولس سوه دري نوي ۱۹۹۳ء کښې چاپ شوے دے. د کتاب تزئین او سمونه د سوات مشهور ناشر فضل ربي راهي کړې ده . شاهین صیب دا کتاب د سوات د ټولو دانشورانو ، پوهانو، شاعرانو ، ادیبانو ، او هاغه لیکوالانو په نوم کړے دے څوک چې د سوات د خاورې په ډول ډول خدمتونه کوي او ددې خاے د ښائست ، عظمت او سر لوړی دپاره هلې ځلې کوي. دا کتاب په یو سل او دولس ۱۱۲ مخونو مشتمل دے . دا کتاب په دري حصو تقسیم دے .

۱. پرونے سوات ۲. نن‌نے سوات ۳. صبانے سوات

هسې خو په دې کتاب کښې د سوات د سیمې متعلق نور معلومات هم شته خو د سوات د صحافتي او ادبي مقام په حقله پرویش شاهین لیکي چې.

که یو طرفته په دې علم دوست خاوره شیخ ملي، پیر روښان ، اخون درو پزه، میا کریم داد او خوشحال خان خټک خپل دفتر ، خېر البیان، مخزن او سوات نامه لیکلي دي نو بل طرفته په یو سر ئې حافظ الپوری د علم او معرفت ملغلرې نوستي دي او په بل سر ئې عبد العظیم رانیزي د حسن او ښکلا کار کړے دے.او هم د دغه کتابونه د پښتو ادب د او سني مونډلي شوي ادب بنیادي او ورومبي کتابونه دي. (۴)"

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

د محمد پروېش شاهین بل لیکلےکتاب "د سوات ګلونه" دے.دا کتاب په دوه سوه او څلیریشت ۲۲۴مخونو شامل دے او د کال ۱۹۸۸ء د جولائي په میاشت کښې د شعیب سنز بکسېلرز اودیانه بازار مینګوري له خوا چاپ شوے دے. دا کتاب په دیارلسو ټوکونو مشتمل دے. اولنے ټوک سوات د تاریخ په رڼا کښې، دویم ټوک د سوات د سین متعلق دے، دریم د سکندر اعظم په سوات کښې ، څلورم سکندر او روښانه، پینځم محمود غزنوي په سوات کښې، شپږم شیخ ملي اعظم، اووم د بي بي مبارکې د وادۀ متعلق ، اتم د بیربل په سوات کښې متعلق ، نهم د خوشحال نامې او سوات نامې متعلق دے،لسم ټوک د سوات د یو عظیم ادبي شخصیت متعلق دے یوولسم ټوک د سید عبدالجبار شاه ، دولسم ټوک د میاګل عبد الودود او دیارلسم د پروفېسر ټوچي متعلق دے. د دې کتاب متعلق پروفېسر محمد نواز طائر لیکي چې.

"د ښاغلي شاهین دا کتاب "د سوات ګلونه" که یو پلو د سوات د تاریخي پس منظر په څېنو برخو رڼا اچوي نو بل پلو د دې زرخېزه او مردم خېزه سیمې د څېنو هاغو نوموړو تاریخي شخصیاتو په زړۀ پورې پېژندګلو هم کوي څوک چې په رشتیا سره د سوات د سمن زار دائمي ګلونه دي "(۵)

په دې کتاب کښې محمد پروېش شاهین د سوات د سین په باب کښې ددې سین ممبه ، نومونه ، تاریخي حېثیت ،د دې سین د بدهـ مذهب په نظر کښې مقام او د دې سین د طوفانونونه علاوه د سوات د ادب سره تعلق هم په ګوته کړے دے. د سین متعلق چاربېتې ،متلونه ،ټپې او د اردو ژبې د نامتو شاعرانو شعرونه ئې هم وړاندې کړي دي. لکه د مثال په توګه د حفیظ جالندهري دا شعرونه .

رونق کوہسار ہے کالام
اک سراپا بہار ہے کالام
روح افزا ہو فضا مخمور
کس قدر خوشگوار ہے کالام
شاداب پہاڑیوں سے رواں ہے
گنگناتی بل کھاتی آبشاریں
گیتی کے برفیدہ چتونوں سے
دودھ کی سی برس رہی ہیں دھاریں
فوج تم فوجی تم شوکت کا سب سامان تم
جسم تم قوی وطن تم جان تم ارمان تم
یہ چمن کھیت ، دریا، نہریں،کہسار من

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

سب تمہارے خون کی لالی سے ہیں رشک و عدن (۶)

د محمدپرویش شاهین کتاب""ګلوریني څوکې" په کال نولس سوه یو کم نوي ۱۹۸۹ء کښې د شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز ادهیانه بازار مینګوره سوات له اړخه چاپ شوے دے.په دې کتاب کښې یو سل او شپېتهٔ ۱۶۰ مخونه دي.پرویش شاهین په دې کتاب کښې د سوات متعلق معلومات دي چې پکښې د امبیلې غزا ، ملاکنډ ، په سوات کښې صحافت ، د ایلم تاریخ ، بدهـ مت او د سوات د وړمبي جومات ذکر موجود دے.

مصنف د پښتو تعریف په داسې ډول کړے دے چې ما تر ننه پورې د بل ادیب د پښتو په حقله داسې تعریف نه وهٔ اورېدلے لکه د کتاب په شروع کښې دوي د پښتو په حقله لیکي.

"پښتو یوازې د پښتنو ضابطه حیات ، وطن ، ژبې او علاقې ته نه شي وئیلے بلکې په سابق ریاست سوات کښې یو دور او نېټه داسې هم تېره شوې ده چې هغې ته پښتو وئیلې شي." (۷)

د دې نه پس مصنف په مستندو حوالو سره د ګوتم بدهـ د پېدائش، وطن او کور کلي په حقله معلومات راکوي او د دې سره سره د ګوتم بدهـ تعلیم و تربیت ، وادهٔ ، د هغه د کوره وتل ، د هغه وخت معاشره،د کور نه د وتلو نه پس واقعات،د هغه تبلیغ اود وفات ذکر ښهٔ په تفصیل سره کړے دے. پرویش شاهین ددې نه پس د بدهـ مت مذهب په حقله پوره معلومات ورکړي دي چې بدهـ مت څنګه مذهب وهٔ،ددې مذهب فرقې، مذهبي کتابونه،د بدهـ مت تعلیمات اوددې مذهب د کامیابېدووجوهات ئې په ښه ډول بیان کړي دي.

ددې نه علاوه په سوات کښې د ایلم د غر متعلق پرویش شاهین چې کوم معلومات راکوي په دغه معلوماتو کښې یوه خبره دا هم ده.دوي لیکي چې.

"د بادشاه ایران SHIN (شین) په زامنو کښې د یو نوم ایلم ELAM وه." (۸)

دلیکوال د ټولو نه غټه او د کار خبره د لته د "سوما" د بوټي بیان دے.د مخ۷۱ نه ۹۰ پورې مصنف په دې بوټي ګټور معلومات وړاندې کړي دي. ددې بوټي متعلق ټپې ،د دې بوټي سره تړلې واقعات، د سپوږمۍ سره ددې بوټي د تعلق په حقله معلومات اود دې بوټي نه د اصلي شرابود

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

جوړېدو نه علاوه ددې بوټي اهمیت په ښه ډول بیان شوے دے.

پروېش شاهین په دې کتاب کښې د سوات د وړمبي جومات ذکر هم کړے دے چې د دې جومات نه د هغه مطلب د سوات په تاریخي کلي اوډیګرام کښې د غر په لمن کښې د محمود غزنوي د زماني جومات دے. د دې جومات متعلق دوې د یوې موندلې شوې کتبې ذکر هم کړے دے چې د دغه کتبې انځور ئې هم په کتاب کښې په مخ یو کم سل ۹۹ ورکړے دے. دلته کښې محمد پروېش شاهین د یو مستندې څېړنې نه پس ددې جومات او د محمودغزنوي په سوات د حملې په حقله لیکي.

" د دې جومات د جوړولو حکم سلطان محمود غزنوي نه دے کړے بلکې د هغوي د حق د رسېدو نه وروستو یو امیر نوشتګین دا جوړ کړے دے.نو آیا په دې رڼا کښې دا وئیلے شو چې محمود غزنوي په سوات د سره حمله نه ده کړې.او په سوات حمله د هغوي د اولاد په دور حکومت کښې شوې ده." (۹)

پروېش شاهین د امبېلې د غزا متعلق په دې کتاب کښې لیکي چې د فیرنګیانو په خبرو به مونږ په پټو سترګو یقین ځکه نه کوو چې دوي دنمر په ګوته دپټولو کوشش کوي . هغوي دا بیان په دا رنګ بیانوي.

" د فېرنګیانو په لیکونو او خبرو پسې به په پټو سترګو نه ځو،ځکه چې هغه نمر په ګوته پټوي او هغه زمونږ کوم کار او کارنامې او عادت ته ښه وئیلي او کتلي دي؟او بیا خاصکر د غزا ګانو او جنګونو په باب کښې خو مونږ د هغو په نظر کښې غداران ، باغیان او سرکشه یو.هغه زمونږ ازادي په غدر بولي ، زمونږ وطن دوستۍ ته د جهل په نظر ګوري او زمونږ اسلام دوستۍ ته د تعصب نوم ورکوي ." (۱۰)

د محمد پروېش شاهین کتاب "ګل ورینې څوکې "د سوات په تاریخ او بیا په خاصه توګه په پښتو ادب ډېر ژور اثر لري. دا په ګڼ شمېر موضوعاتو مشتمله یوه مقاله ده. په دې کتاب کښې چې کوم تاریخي واقعات ذکر کړے شوي دي ،ددې سره د سوات دادب په حقله هم معلومات وړاندې کړے شوي دي.په سوات کښې د صحافت،د بدهـ مت،دسوات وړومبے جماعت،دایلم متعلق معلومات د امبېلې غزا او شاهراه رېشم (د ریښمو لار) په حقله ګټور معلومات راکړلي شوي دي.

پروېش شاهین هغه ادیب دے چا چې د سوات نه علاوه په

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

چترال،کوهستان او دير باجوړ ، بونېراو شانګله معلومات راکړي دي . د دي ځايونو په تهذيب ، د دي ځايونو په سېلګرۍ او د دي علاقو ادبي خدماتو باندې ښه په تفصيل سره بحث شوے دے. د دي کتاب په حقله

عبد الکافي اديب وائي.

"دنن ورځې تيز رفتاره زمانه کښې چا سره هم دومره وخت نشته چې هغي دي د تاريخي ماخذ لټون د پاره دومره وخت اولري . ښاغلے پروېش شاهين د وطن د استوګنو د پاره په دا کتاب کښې تاريخي حقائق او شواهد ئې نه صرف راغونډ کړل بلکې دا ئې د يو اهم فرض په توګه سر ته اورسولو.ددې کتاب په برکت به نه صرف د دې سيمې تاريخي او تهذيبي اهميت را بر څېره شي بلکې د بصيرت د خاوندانو د پاره به د تاريخ او تحقيق نوے لارے پرانستے شي" (١١)

د پروېش شاهين په حقله زرولي خان مروت وائي.

"د شاهين صېب ليک اګرچې ډېر مختصر دے خو انداز ئې دومره ساده،صفا او په زړه پورې دے او په لږ ځاے کښې ئې د کار ور دومره خبرې کړي دي چې دا نمونه ليک زما د نظر نه چرته په بل کوم کتاب کښې نه دے اغوښتے.د شاهين صېب په دې موادو که چرې څوک مخکښې کار کول اوغواړي نوددې موادو په رڼا کښې پرې ښه غټ کتاب ليکلے شي." (١٢)

د محمدپروېش شاهين ليک خصوصي سوات د پاره او په عمومي توګه د پښتو ادب دپاره ډېر لازمي ځکه ګرځېدلے دے چې د دې په رڼا کښې په سوات دننه او د سوات نه بهر ډېرو ليکوالانو د سوات په ښکلا،ددې سيمې په ښېرازۍ ،ددې ځاے په ورشو ګانو،په کيله ، په کر کيله ، په تاريخي عمارتونو،د دې سيمې د خلقو په کلتوراو په دود دستور ليکل کړي دي. د غه ليکل د پښتو نه علاوه په اردو ژبې هم شوي دي.د پروېش شاهين"د سوات ګلونه " په حقله پروفېسر محمد نواز طائر ليکي چې.

" دا لټون او دا تجسس اوس ښه په درز کښې روان دے. د اثارو او باقياتو عالمان د تمدن او معاشرت پوهان ، مورخين،د علم الاهنامو ماهرين ، ماهرين انساب،ماهرين فنون قديم ، ماهرين لسانيات ادبيات او شفاهيات تول په خپل مېدان کښې سوات د سيمې د دغې ورکواو بې درکه شوو خزانو په لټون او رابر

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

څېړه کولولګیا دي." (۱۳)

سکندراعظم په سوات کښې،دا خبره هم تاریخي اهمیت لري. د سکندر اعظم متعلق په سوات د پښتو د لیکلي شوي کتابونو کښې چې څومره هم معلومات راوړلے شوي دي په دغه کښې د محمد پرویش شاهین راوړي نظریه مستنده ده. د سکندر اعظم په حقله محمد پرویش شاهین لیکي.

"سکندر د لوے زړۀ او لوے ارادے خاوند وو.د هغه تربیت په څه داسي طور طریقو سره شوے وۀ چې هغه د مشکلاتو نه نه ویریدو.دیونان د غرونو نه راپورته شه،ایران اودایران نه وروستو ئې افغانستان اووا هه.بیا پخپله د باجوړ په لور روان شه او باقي لښکر ته ئې د خیبر په تاریخي دره د کوچ حکم ورکه." (۱۴)

او بیا د سکندر د سوات نه د واپسی په حقله پرویش شاهین لیکي.

"لکه څنګه چې مونږه دا خبره غلطه ګڼو چې سکندر اعظم ته د فتوحاتو شوق وو، نو ځکه ئې دا حملې کړي وې. هم دغسې دا ویـنا هم غلطه ده چې سکندر اعظم ځکه واپس شو چې د هغه فوځیان ستړي شوي ووا د مخکښې تلو نه ئې انکار اوکه." (۱۵)

د غه شان سوات ته د محمود غزنوي د راتګ په حقله هم ډیرې ګډې وډې خبرې مشهورې دي. څوک وائي چې محمود غزنوي د سره سوات ته راغلے هم نه وو څوک لیکي چې دچکدرې پورې راغلے ووخو په دې تولوخبرو محمد پرویش شاهین څېړنه کړې ده .سوات ته د محمود غزنوي د راتګ په حقله محمد پرویش شاهین دا بیان کوي چې.

"اسلام دلته د محمود غزنوي په مشری کښې راغلے وۀ.دهغه سره راغلے ابو ریحان البېروني د سوات د سین د سپینو او پاکو اوبو صفت کوي او د محمود غزنوي سره یو "فري تهنکر"شاه پسند خان چې هر کله د سوات ښکلا،تنها او پرقا اولیده نو بې واکه ئې چغه کړه چې سوات نه دے د شرابو ډکه پیاله ده او بیا هم ددې ځاے دا خلق محمود غزنوي د خان سره ملګري کړل او د هند په زمکه ئې دحملو دپاره پکار کړل." (۱۶)

یوسف زي سوات ته کله،څنګه او ولې راغلل، په دې حقله محمد پرویش شاهین څېړنه کړې ده او د شواهدو نه پس ئې

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146



Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

خپله نظریه راوړي ده.د یوسفزو د سوات د راتګ په حقله محمد پرویش شاهین په خپل کتاب " سوات د سردرو وطن" کښې لیکي چې.

> کله چې یوسفزي د الغ بېګ د لاسه په کابل کښې تالا والا شول نو د شېخ ملي او ملک احمد په مشرئ کښې د هغه ځایه رااوتل خو د سوات د لېوني ښائست او ادب دے زمکې هلته دوي لېوني کړي وو.ځکه خو چې هغوئ د کابل نه بې کوره شول نو مقصد او مرام ئې صرف او صرف د سوات نیول وو.څه هم که د دوي نه مخکښې "سواتیان" ډېر پوهه، هوښیار، علم دوست او فنون دوست خلق دلته آباد وو خو سوات د خپل بې مثله ښائست او ودانۍ له سوبه د هر چا د زړهٔ سر او د سترګو تور وو." (۱۷)

پرویش شاهین د سوات د تاریخ په حقله ګټه ور معلومات راوړي دي. په دغه معلوماتو کښې د سوات د یو باچا سید عبد الجبار شاه قیصه هم د بیانولو قابله ده.وئېلے کېږي چې سید

عبد الجبار شاه قادیانے وو.محمد پرویش شاهین د سید عبد الجبار شاه د قادیانیت او ددهٔ په تائید کښې په خپل کتاب" د سوات ګلونه" کښې د مخ یو سل درې اویا ۱۷۳ نه د مخ یو سل څلور نوي ۱۹۴ پورې ښهٔ په تفصیل سره لیکل کړي دي. هغه لیکي چې.

> "په ټول تاریخ سوات د مواد په جمع کولو کښې زهٔ په نور څه دومره نه یم کړېدلے لکه څومره چې د سید عبد الجبارشاه د قادیانیت په باره کښې په لټون کړېدلے یم. ما ددې د پاره دومره کوشش ځکه کووچې هسې نه د میا صېب په درونډ اوسپېځلي شخصیت رانه داغ اونه لګي. ددې دپاره ما خپل پوره کوشش اوکړو او آخر په دې نتیجه رااورسېدم چې میاصېب د "لاهوري ګروپ " سره تعلق لرلواو غلام احمد ئې یو مجتهد ګڼلو." (۱۸)

نو د محمد پرویش شاهین د بیان د مخې خوراقم هم په دې نتیجه رسېږي چې سید عبدالجبار شاه قادیانے وهٔ.

د محمداصف خان کتاب " تاریخ ریاست سوات او سوانح باني ریاست سوات میا ګل شهزاده عبد الودود خان بادشاه صاحب"چې دا اردو ته هم ژباړلې شوي دي ،یو ضخیم کتاب دے .دې کتاب ته ډېر څېړنکاران د څېړنې کتاب وائي خو د محمد پرویش شاهین ددې کتاب متعلق خپله نظریه ده.دا

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

کتاب صرف د ولي عهد په تعریفونو کښې لیکلے شوے دے. محمد پرویش شاهین د دې کتاب په حقله د یوې پښتنې په ځواب کښې وائي چې.

> "محمد آصف خان مرزا په اصل کښې د سوات نه وو، سوات ته راغلے وۀ او ډېر پوهه او زیرک انسان وو لیک لوست ئې هم کولې شو نو په ډېره غټ تدبیر ئې دباچا صیب سوانح عمري اولیکله چې ټوله د هغه د تعریفونو نه ډکه ده. او ولې به ئې داسې نه کول چې هغه خو ډېر ښه ځاے بیا موندلے وۀ." (۱۹)

سوات ته ګڼ شمېر قومونه هم راغلي وو.په دغه قامونو کښې مغل هم وو.لیکوال په دې اړه هم ښه ګټه ور معلومات راکوي.د دوي دا معلومات د مستندو حوالو په مرسته راوړې شوي دي.په سوات کښې د مغلوپه حقله محمد پرویش شاهین په خپل کتاب " ګلورینے څوکے" کښې لیکي چې.

> "د بابر بادشاه دلوے لښکراو یوسفزو په مېنځ کښې لویه شخړه اوشوه نو اکبر خپل لوے لښکر د بیر بل په مشرۍ کښې سوات ته راولېږه.د غه لوے لښکر د ملاکنډ د غر په خوا کښې د چکدرې په ګودر سوات ته راپورې وتلے وۀاو چې کله بیا داورنګزېب عالمګیر وخت راغےاود پښتنودروایتي بې اتفاقۍ په وجه ئې په دوي کښې لاره جوړه کړه. خوشحال خان خټک مجبوره شو چې خواره واره پښتانۀ د مقابلې دپاره راجمع کړي او هم په دې سلسله کښې سوات ته د ملاکنډ په دروازه رانوت." (۲۰)

لیکوال په پښتني اقدارو هم په زړه پورې بحث کړے دے. د پښتني اقداروتاریخ ئې په ګوته کړے دے او ددې نه علاوه ئې مونږ ته ښودلي دي چې حجره، جمات،مېلمه،ګودراودپښتنو بدل په پښتون ټولنیز ژوند کښې څه اهمیت لري.مېلمه څه ته وائي او په پښتنوکښې د مېلمه کوم مقام دے په دے حقله محمد پرویش شاهین وائي چې.

> "مېلمه د انساني همدردۍ یو ځلنده مثال دے. خپل مال په چا خورول اسان کار نه دےخودپښتون عقیده ده چې مېلمه رزق خپل خوري او حیا پرې د کور د خاوند کېږي.د پښتو داعقیده د مېلمستیا پوره وضاحت،عزت او اهمیت ښکاره کوي." (۲۱)

پښتانۀ د مېلمستیادپاره په ګرده نړۍ کښې مشهوردي. دوي د مېلمنو ډېر قدرکوي ،د دوي د هر قسمه سهولت خیال

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

ساتي . د دوي د خوراک څښاک ، د ځاے او د ژوند د نورو ضروري څیزونو خیال په خاصه توګه ساتي. نن صبا که پښتنو ته مېلمستیا ګرانه شوې ده نود هغې وجه هم محمد پرویش شاهین په دا رنګ بیان کړې ده. هغه لیکي چې.

"زما په خیال د پښتون په مېلمه دوستۍ کښې د کمۍ غټه وجه داده چې پښتنو "مېلمستیا"ډېراوچت سټېنډرډ ته رسولې ده. چې په هغې ډېر زیات خرڅ راځي او د غټ خرڅونو ته اوس غاړه کې ښوده ډېره ګرانه شوې ده. که چرې پښتون ''چې څه تیار وي هغه د یار وي``په کلیه عمل اوکړي نو یقیناً چې مېلمستیا به پرې بوج نه جوړېږي. (۲۲)

دغه شان ګودر چې په اردو کښې ورته پنګهټ وئیلے شي د پښتنو په کلتور کښې یوه ځانګړتیا لري. او په سوات او خواوشا سیمو کښې خو د ګودر خپل ځان له وجود دے. په اصل کښې خو ګودر هغه ځاے دے چې کوم ځاے قدرتي اوبۀ د زمکې نه رازېږي او دغه اوبۀ د څښلو دپاره استعمالېږي. د سوات په غرئزه سیمه ډېر ګودرونه اوس هم شته چې د دغه علاقو د کورونو پېغلې ترینه اوبۀ په منګو کښې راوړي. د محمد پرویش شاهین د ګودر متعلق خیال دے چې.

"ګودر خو د جینکو کالج دے، کوم هر څه چې هلکان په کالج او پوهنتون کښې زده کوي هم دغه هر څه جینکۍ په ګودرونو کښې زده کوي. ګودر ته په خصوصي توګه د سوات په سیمه کښې ډېر اهمیت حاصل دے،ځکه چې دا صرف د اوبو د راډکولو ځاے نه دے بلکې زمونږ د کلتور د راژوندي کولو ځاے دے. بله دا چې ګودر ته که زۀ د جینکو حجره اووایم نو غلطه به نه وي." (۲۳)

په پوره سوات کښې لیکوال یو داسي شخصیت دے چې دوي ددې سیمې په قدرتي وسائیلو نظر ساتي، دوي صرف د یوې علاقې سیل ګري نه ده کړي بلکې د هر ځائې خاصیت او په هر ځائې کښې بوټي ،مېوے او د فصلونو په حقله ئې هم معلومات وړاندې کړي دي.

د سوات په دځنګلونو کښې داسې بوټي هم کېږي چې هغه په مختلفو دوایانو کښې استعمالېږي. دغه بوټي د دې سیمې نه بهر ته د ټستونو دپاره وړلې کېږي او په ملک کښې په مختلفو لیبارټریانو کښې ترې د جدید دوایانو ټستونه کېږي. په دې حقله محمدپرویش شاهین لیکي چې.

"د سوات په غراوسمه راټوکېدلي ژوند بخښونکي څېلې

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

بوټي په ټول برصغير کښې دومره مشهور وو چې د لرې
لرې علاقو نه پسي سنیاسیان او حکیمان راتلل.دلته
به په میاشتو میاشتو دیره وواو ددې ځاے
راټوکېدلي بوټي چې ترياق به ګڼلے شول، راجمع کول
او ددې ځاے نه به په قچرو بارکېدل او بیا
وروستو په ټرکونو ټرکونو اوړے شول." (۲۴)

"دپښتنو ژوند ژواک "کښې محمدپرویش شاهین د
"شفاهي قيصې" په عنوان سره داسي قیصې بیان کړې
دي چې هغه د پښتون د تهذیب او ثقافت حصه ده. په
دې قیصو کښې یوه "وے که څه دي مثلي دي" د عبرت
نه ډکه ده او د سوات د تهذیب او ثقافت نمونه ده.

لیکوال د پښتنود عادتونو هم وضا حت کړے دے.نسوار چې د
پښتنود ثقافت یو اهمه برخه ده ، ددې په حقله
محمدپرویش شاهین لوستونکي د معلوم نه تر نامعلومه
رسولو کوشش کوي. لیکوال د نسوارو د تاریخ په حقله
لیکي چې.

"اګر چې لفظ نشوارداوولسمې صدئ په مینځ کښې د
هالینډوالوو ایجاد ګڼلے شي.او دا نوم "سنف"SNUFF
به هغو هغه مېده کړي تماکو ته وے کوم چې به د سر
سپکولواو یا د ویښے بندولود پاره استعمالولے
شول.دا حقیقت دے چې نسوار د هالینډ ایجاد نه دے
ولي چې هر کله چې کولمبس په څوارلس سوه درې نوي
۱۴۹۳ء کښې په خپل مهم روان وۀ نو هغه ته اود هغه
ملګروته دا معلومات حاصل شوي وو چې د هندوستان
خلق د نسوارو استعمال کوي." (۲۵)

محمد پرویش شاهین د سوات په زمکه د تهذیبونو په حقله
دا شعر راوړے دے چې.

یه د سوات زمکې څومره ته عجیبه شان لرې
ته د تاریخونو تهذیبونو لوے داستان لرې(۲۶)

د محمد پرویش شاهین کتاب "سوات د سردرو وطن" د سوات
دتهذیب او ثقافت ائینه دار دے.په دې کتاب کښې لیکوال
د سوات د شکلا ګانو،د سوات په اثار قدیمه ، د سوات په
فن او فنکارانو،د ښکار، میلو، باغونو ،پلونو،سکولونو
،کالجونو ، اسپتالونو،اډو،سړکونو ، ابادیانو،د کلو
نومونو،فصلونو،کانونو، دسېل سپاټې په
ځایونو،یادګارونو او د پوهنتونونو علاوه ددې سیمې په
سین په نوي طرز لیکل کړي دي چې په دې سره د سوات
تهذیب او ثقافت رابرڅېره شوے دے. لیکوال د سوات د

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

دودونو او دستورونو په حقله لیکي چي.

"سوات ځان ته خپل دود د ستور لري. څه د مذهب په نوم او څه د رواج په نامه.لکه په اسان کښې په قبرونو اوبهٔ اچول،قبرونه پخول،ژړا کول.د جینئ د وادهٔ په وخت کښې د هلک د پلار د کلي او پلو د ډوډۍ د پاره پېسې اخستل، په جینئ پسې په اووهمه ورځ د اوو مي سامانانونه وړل،جنجیان په ګټواو غوښانو ویشتل او په هغو پسې چغې و هل،وادهٔ شوي جینئ په شوقدراو اختر کورته راوستل اومیاشت نیمه بیرته نه لېږل،د ډېر زیات باران کېدلو په وجه د وړو شین غوښتل،د بابا ګانو مزاروو نه جاروکول اود ماشوم د ناجوړتیا په وخت پئ وېشل وغیره." (۲۷)

د ګډا په حقله د محمد پرویش شاهین څېړنه وړاندې کووم. هغه لیکي چي.

"دا صحیح ده چې د ګډارواج ډېر زوړاو پخوانے دے.او ددې ثبوتونه مونږ ته د اثار قدیمه د کنستواوابرڅېړه کړے شوو څیزونو نه په لاس راځي. که د مصر تهذیب دے که د بابل که کلداني تهذیب دے او که د وادي سنده ، په ټولو کښې داسې مجسمې راوتي دي چې په هغې کښې ځنې مجسمې په ولاړې په رقص ښائیلے شوي دي او ځنې په ناستي او ځنې د ټولګو په شکل کښې. خو دګډااو د نڅادغه شکل داسې نه وو لکه دے نني او بیا خاص کر پښتني تهذیب چې خپل کړے دے . ګډا په دغه پخواني وختونو کښې یو مذهبي رسم ګڼلے شو.او د دیوتا ګانو د خوشحالولودپاره به دا ګډا ګاني کېدے.خو روروو دغه رویه بیا بدله شوه او بدشان شکل ئې اختیارکړو.هم دغه وخت کښې بیا ګډا د فن په ځاے د بې حیایۍ،هوس،لوټ تالان،اود بې قدرۍ درجې ته را اوغورځېده. (۲۸)

د محمد پرویش شاهین اسلوب روان اوساده دے . د دوي ژبه شه د سوات د پښتنو صفا ژبه ده. هسې هم د سوات د پښتنو د ژبې لهجه په پوره پښتونخوا کښې شه په اسانه لوستلې شي. مصنف خود پښتو ټیکسټ بک بورډ کښې هم په اعلا څوکۍ خدمات ترسره کړي دي، هم دغه وجه وه چې دوي د ژبې په حقله ډېر خدمات تر سره کړي دي.

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

## حوالي

۱. شاهین،محمدپرویش. د سوات ګلونه . شعیب سنز بکسپلرز اودیانه بازار مِنګوره سوات ، جولائي ۱۹۸۸ ء مخ.۲۰

۲. هم دغه اثر مخ.۲۲

۳. هم دغه اثر مخونه ۳۵ او ۳۶

۴ شاهین، محمد پرویش. سوات د سردرو وطن. شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسپلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات مخونه ۳۶ او ۳۷

۵. شاهین.محمد پرویش.د سوات ګلونه. شعیب سنز بکسپلرز اودیانه بازار مینګوره سوات ، جولائي ۱۹۸۸ ء مخونه ۴۲

۶. د سوات ګلونه. مخ.۴۸

۷. شاهین، محمد پرویش .ګل وریني خوکي، شعیب سنزپبلشرز ، بکسپلرز جي ټي روډ (بالمقابل ستار مارکيټ) مینګوره سوات ۱۹۸۹ء مخ.۱۹

۸. هم دغه اثر مخ.۵۷

۹.هم دغه اثر مخ.۹۲

۱۰.هم دغه اثر مخ.۱۰۹

۱۱.هم دغه اثر مخونه ۵ او ۶

۱۲. سوات د سردرو وطن مخ.۹

۱۳. د سوات ګلونه . مخونه ۵ او ۶

**۱۴. شاهین، محمد پرویش . د یوسفزو ګلونه، شعیب سنز بکسپلرز اودیانه بازار مینګوره، ۱۹۸۸ء مخ.۵۳**

۱۵. هم دغه اثر مخ.۶۰

**۱۶. شاهین، محمد پرویش .سوات د سردرو وطن. شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسپلرز ، جي روډ مینګوره سوات، ۱۹۹۳ء مخ.۲۶**

**۱۷. هم دغه اثر مخ.۲۶**

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 11 (November) (2025)

**۱۸. د سوات ګلونه. مخ.۱۹۳**

**۱۹. د محمد پرویش شاهین سره مرکه . دهغوئ په دیره کښې. ۱۳ دسمبر ۲۰۲۳ء**

**۲۰. ګل وریني څوکې. مخ.۱۰۲**

۲۱. شاهین، محمد پرویش. د پښتنو ژوند ژواک.شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسېلرز،جي ټي روډ مینګوره سوات دویم ځل جون ۱۹۸۹ء مخ.۸۴

۲۲. هم دغه اثر مخونه ۷۵ او ۷۶

۲۳. د راقم د محمد پرویش شاهین سره مرکه. د محمد پرویش شاهین جونګړه (منګلور) سوات دویشتم مارچ دوه زره پنځویشتم ۲۰۲۵ء

۲۴. سوات د سردرو وطن. مخونه ۵۵ او ۵۶

**۲۵. دپښتنو ژوند ژواک،. مخ.۲۴۴**

۲۶. د سوات ګلونه مخ.۴۵

۲۷. سوات د سردرو وطن. مخ.۵۳

۲۸.د پښتنو ژوند ژواک. مخ.۲۰۲